# زېری

پنځلس ورځنۍ جریده

د تأسیس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

چهارشنبه ▣ ۵ - ۶مه ګڼه ▣ درېیمه دوره ▣ پرله پسې ۲۰۵ - ۲۰۶مه ګڼه ▣ ۱۳۹۳ لمریز کال د غبرګولي ۲۸مه ▣ ۱۴۳۵هـ ق کال د شعبان المعظم ۲۰مه ▣ ۲۰۱۴ زېږدیز کال د جون ۱۸مه


## د ناپوه خوی

د ناپوه عادت دا دی زما زړګیه
چې یو دوست په ډېر مدت سره پیدا کړي
رعایت یې د دوستۍ هیڅ پرځای نه کا
په لږ وخت یې هم خپه هم یې جلا کړي

"عبدالحمید خان"

ادبي بحثونه:

# د ادبپوهنې میتودولوژي

✎ ځېړنپوه سید محی الدین هاشمي

د مخه تردې چې د ادبپوهنې د مېتودولوژي په اړه څه ووایو، "میتود" او "میتودولوژي" د رپېژنو: د ادب تیوري اساسونه اثر د لیکوال په وینا: د ادب په تیوري کې میتود د هغو پرنسیپونو تتبع ته ویل کېږي، چې په یو یا بل تاریخي پړاو کې د ادب د څېړنې اساس ګڼل کېږي. (۱)

کاندید اکاډیمسین پوهاند دوکتور محمد رحیم الهام د میتود او میتودولوژي د لغوي او اصطلاحي پېژندنو په اړه مفصل بحث کړی، چې په لنډیز سره یې ځینې ټکي رااخلو.

میتود (Method) کلمه اروپایي ژبو ته د لاتین (Method) او هغه په خپله د یوناني له (Method) څخه ورغلې ده، چې په دغو ژبو کې یې د طرز العمل وضعیت او حالت معناوې درلودې، دې کلمې زموږ ژبو ته هم لاره موندلې او کارونه یې زیاته او پراخه شوې ده. په عربي، دري او پښتو کې د اسلوب، طریقې، دود او روش کلمې د میتود اندول په توګه استعمالېږي.

په انګلیسي قاموسونو کې دغه مقوله په دې لاندینیو مفاهمو باندې اطلاق کېږي: د یو منظم طرز العمل له مخې د اجرااتو یو خاص حالت، د یو کار د سرته رسولو نظم یا سیستم، د یوې چارې د مخ ته بېولو باقاعده یا سیستماتیک تنظیم.

میتود په اصطلاح کې د یوې چارې د سرته رسولو یا د یوې حادثې د پېښېدو پر منل شوي ډول او دود باندې دلالت کوي. همدارنګه:

میتود یو داسې منل شوی طرز العمل ته وايي، چې له یو مشخص، د منلو وړ منطقي او منظم پلان او طرحې سره سم تطبیق شي.

خو میتودولوژي (Methodology) د میتود پوهنې معنا لري او له "میتود" سره د "لوژي" په یوځای کېدو، چې د علم معنا لري، جوړه شوې ده، چې په پښتو کې د میتودولوژي له پاره د څېړندود پوهنه یا څېړنپوهنه اصطلاح کارول مناسب دي.

میتودولوژي په لرغونو زمانو کې د منطق او اوس د فلسفې یوه څانګه ده، چې په عام ډول د علم او پوهې او په خاصه توګه د هر ځانګړي علم د تنظیم پر منطقي ضوابطو او د علمي فعالیت د سرته رسولو دود او لارې ته ویل کېږي. (۲)

په عام ډول د ادبپوهنې میتودولوژي هغه اصول او پرنسیپونه دي، چې د ټاکلي لیکوال یا شاعر د هنري پنځونو او تخلیق لارښوونه کوي او د هغوی لار او روش موږ ته راپېژني. همدارنګه د ډېرو ادیبانو ګډه لاره د هغوی د "ادبي میتود" په نامه یادېږي.

ادبیات د څېړنې مطالعې او پېژندنې له پاره یو لړ اصول لري، چې ادبپوهانو هغو ته "ادبي میتودولوژي" نوم ورکړی دی.

دلته یوه بنسټیزه پوښتنه دا ده، چې ادبي څېړنې او مطالعات باید څرنګه ترسره شي؟

آیا کولی شو، چې داسې یوه لاره او روش ومومو، هغه تطبیق او په عمل کې پلې کړو، چې له هره اړخه پوره، کره او قانع کوونکې دی؟

دې پوښتنې ته په بېلابېلو بڼو ځواب ویل شوی دی. له هغو څخه یو دا دی چې موږ کولای شو، ادبیات په هغو لارو طریقو، چې په طبیعي علومو کې کارول کېږي، وڅېړو او مطالعه یې کړو.

د "تیوری های ادبی ونقد ادبی" اثر لیکوال دا لارې او روشونه یا څېړندودونه په تفصیل سره راپېژني، چې موږ یې دلته په لنډیز سره رااخلو:

**عیني یا افاقي لاره (روش):**

عینیت دا دی چې د شیانو او پېښو شتون له ذهن څخه دباندې خپلواک او مستقل وګڼو او هغه هغسې چې دي او احساسېږي، په بې پلوه توګه تشریح او وڅېړو.

درېیم مخ ⟵

# لنډۍ د استاد بېنوا له نظره

⦿ ځېړنپوه علي محمد منګل

د پښتو د معاصر ادب په ګلستان کې، زموږ بل ستر پوه، دانشمند، عالم، لیکوال، پوخ ادیب او نوښتګر شاعر استاد عبدالرووف بېنوا، چې بې له شکه یې د پښتو ادب ډېر ښکلي ګلبڼ او باغ ته بې ساري رنګین او ادبي نه ستړې کېدونکي مالیارتوب سره په ټوله ادبي ځلا را وځلېږي، دی د پښتو د دغو ملي لالونو او طلایي بڅرکیو په باب داسې په لوړه ادبي ادا وایي:

"لنډۍ هغه اشعار دي، چې شاعر او ویونکی یې معلوم نه دی او د هر حساس پښتانه او حساسې پښتنې د احساساتو هینداره باله شي.

# کورمه د پښتو د ولسي ادب په هینداره کې

◇ څېړنپوه محمد عارف غروال

کورمه چې تر ۱۸۷۹ زېږدیز کال پورې، لکه د نورې پښتونخوا په څېر د لوی افغانستان د ستر بدن یوه برخه وه، خو د انګرېزیانو د یرغل په نتیجه کې له خپلې اصلي خاورې څخه جلا او د هغه وخت د انګرېزانو تر واکمنۍ لاندې سیمې پورې وتړل شوه، چې اوس د ډیورنډ کرښې د پورې غاړې په سیمې پورې اړه لري. د کورمې مرکز پاړاچنار یا توتکی دی، چې له کوهاټ څخه ۱۱۷ میله او له پېیوار څخه ۱۶ میله واټن لري، نور مهم او سوداګریز ښارونه او ښارګوټي یې صده، علي زي، خرلاڅي او بګن دي.

کورمه د خپلې پراختیا له مخې، خورا ډېرې سیمې لري، خو مشهورې یې غوز ګړی، متاسنګر، خرلاڅي، بروکی، تره، پیواړ، شلوزان، بګزي، کرمان، مخي زي، مظفرکوټ، ټنګی، بلیامین، زیړان او نورې دي. په کورمه کې پر توریو، بنګښو او ملي خېلو سربېره مقبل، منګل او ځاځي هم ژوند کوي، خو توري او بنګښ تر نورو زیات دي او د توریو شمېر بیا تر ټولو زیات دی. توري او ملي خېل شیعه مسلمانان او نور بیا سني مسلمانان دي.

**کورمه د پښتو په ولسي ادب کې:**

هغه سیمه، هغه تاریخي پېښې، هغه تاریخي اعلام او هغه تاریخي شخصیتونه، چې د ځینو ځانګړنو پربنسټ له نورو سیمو، تاریخي پېښو، تاریخي اعلامو او تاریخي شخصیتونو څخه څه ناڅه امتیاز ولري، نو هرومرو د هغو خلکو د ژبې ادبیاتو ته هم لاره پیدا کوي او د ادب پنځوونکو په آثارو او ویناوو کې ځان ښکاره کوي، کورمه هم یوه له هغو سیمو څخه ده، چې لکه د پښتونخوا د ځینو نورو سیمو په څېر یې پښتو ادب ته لاره موندلې او د پښتو په ادبیاتو کې په پراخه کچه یاده شوې ده. د بېلګې په توګه، په لاندې پښتو لنډیو کې ګورو، چې کورمې ته په کومه سترګه کتل شوي دي:

یـــار مــې د خوســت زه یــم د کـــورمې
د خوســت او کــورمې یــاره نــه شــي دیدنونـــه
*****

پېـــزوان پـــه کورمـــه کـــې جـــوړېږي
د کنـــدهار زرګـــره مـــات دې شـــه لاســـونه
*****

پېـــزوان پـــه کورمـــه کـــې جـــوړېږي
د پېښـــور زرګـــره مـــات دې شـــه لاســـونه
*****

چارګـــل پـــه کورمـــه کـــې جـــوړېږي
د پېښـــور زرګـــره مـــات دې شـــه لاســـونه
*****

چارګـــل پـــه کورمـــه کـــې بنـــدي شـــو
پېزوانـــه تـــا بـــه یرغمـــل پســـې لېږمـــه
*****

چارګـــل پـــه کورمـــه کـــې بنـــدي شـــو
پېزوانـــه تـــا بـــه ننـــواتې ور لېږمـــه
*****

چـــې څنـــډلي راپســـې نیســـې
مـــا بـــه زېړې کـــورمې تـــه ورکـــه کـــړې مینـــه
*****

لکه څنګه چې په پښتو لنډیو کې، کورمه د هغې د ارزښت او اهمیت له مخې یاده شوې او انځور شوې ده، همدغه شان د پښتو د ولسي ادب په سروکو کې هم کورمه له پامه نه ده غورځول شوې او په یو نه یو ډول یې پښتو سروکو ته لار موندلې ده. شلوزان چې د کورمې د ښکلې درې او ښایسته سیمې یوه ښېرازه او ښکلې دره ده، د پراخو او ودانو کروندو تر څنګ په پراخه کچه سمسور باغونه هم لري، نو د شلوزان د باغونو او د دې سمسورو باغونو د خوږو او پرېمانه مېوو ستاینه د ملي اتڼ په لاندې بیتونو کې داسې راغلې ده:

ســـــتا ســـــترګې ډنډونـــــه
بانـــه دې شـــلوزان شـــینکي باغونـــه
*****

ځـــــځ چـــــې پســـــې ولاړ شـــــو
جلکـــــۍ د شـــــلوزان ســـــرکۍ منـــــه ده
*****

همدارنګه په نورو ولسي سندرو کې لیدل کېږي، چې کورمه د خپل اهمیت او موقعیت له مخې په پراخه کچه انځور شوې او بیان شوې ده، که څه هم د کورمې په اړه د پښتو په ولسي ادب کې خورا ډېرې سندرې موجودې دي، چې موږ د ټولو له راوړلو څخه تېرېږو، خو یوازې د خپلې ادعا د ثبوت له پاره د څو بېلګو په راوړلو بسنه کوو او هغه دا دي:

د کـــورمې څـــه ســـړي اوبـــه لـــوړ څنارونـــه
لـــیلا د خیالـــه ګـــړی وړي کـــویږي لاســـونه (۱)
*****

خاونـــده مـــه راولـــې بیـــا داســـې کلونـــه
کـــورمې پـــه سترو کڅـــو وختـــل توپونـــه (۲)
*****

جار دې شم سپین غره هر طرف دې لارې لارې
یـــوطرف تـــه کورمـــه پـــه دا بـــل طرف شینوارې
جـــــار دې شـــــم ســـــپین غـــــره
*****

دریم مخ

پښتني او ادبي مینه ښکلا ور په برخه کړې ده، چې دا ادبي او علمي ګلان به د پښتو ادب په غولي کې تل تازه او د ده ستر نوم به پرې جاوېدان او تل ژوندی وي.

استاد بېنوا د دغو ډېرو ډېرې ډېرې ادبي او علمي ګلانو په لړ کې د پښتو د ملي او ولسي ادبیاتو په برخه کې، په تېره د پښتو لنډیو (ټپو، ټیکیو، سندرو، مسریو) په باب هم ښه په خوند سره لنډه او پخه درنده څېړنه او یادونه کړې ده، چې دلته به یې د ده د لوړ قلم او غښتلیو ګوتو له فیضان او برکت څخه څه بختوره ادبي خوشبویي او رنګیني له ټولې ښکلا سره ترې په مینه راواخلو، چې د ده په دغه علمي او ادبي ډېر واړه او کوچني، خو په پاخه یادښت سره به زموږ دغه څه تتته غوندې لیکنه ښه رڼا او د ځلاندو ستورو په شان به په ټوله

د پښتنو په غرو او رغو کې، کلیو او ښارو کې، په شنو درو او لویو دښتو کې، د آبشار څنګ او د کېږدۍ اړخ ته، د شپانه په شپېلۍ او د ښهوال په نی کې او بالاخره د پښتني خاورې په هر ګوټ کې له دې اشعارو څخه په یو شان په مینه خوند اخیستل کېږي.

زاړه یې د ځوانۍ د خاطراتو په یاد وایي، زلمیان او پېغلې د خپل زلمیتوب شور او مستي په کې لټوي، مینانو ته د راز او نیاز رویباري کوي، توریالیان ورسره د تورو په میدان کې ګډېږي او پردېسان په پردېسۍ کې د خپل وطن مینې پرې تازه کوي او یادوي.

دا اشعار څومره چې ډېر ساده، سلیس او روان دي، هغومره د پردیو ژبو له اغېزې څخه هم پاک او چڼ دي.

د دېوانـــو (دېوانونـــو) اشـــعار، کـــه د عربـــي

دریم مخ

# فونولوژي

✸ څېړنوال مولا جان تنیوال

فونولوژي هغه پوهه ده، چې د یوې ژبې اوازونه مطالعه کوي. یو شمېر ژبپوهان، فونولوژي ته د ژبپوهنې د یوه داسې دسپلین په سترګه ګوري، چې د یوې ژبې اوازونه څېړي. همدارنګه زیات شمېر پوهان، فونولوژي د پښویې یا ګرامر یوه لویه او جوړوونکې څانګه بولي.

په یوه اثر کې د فونولوژي په باره کې لیکل شوي دي، چې فونولوژي د ګرامر د مقدمې په توګه هغه برخه ده، چې یوازې ارزښتناکه غږونه (فونیمونه) تر څېړنې لاندې نیسي. (۱)

پورتنۍ څرګندونه په ډېرې اسانۍ سره د غږپوهنې (فونولوژي) او فونټیک ترمنځ توپیر په ګوته کوي او هغه فاصل حد راښیي، چې د فونټیک او غږپوهنې دندې مشخصوي. په ځینو اثارو کې د دې دواړو ترمنځ توپیر په اسانۍ سره نه شي پېژندل کېدای، همدا وجه ده، چې کله ناکله لوستونکی له ستونزو سره مخامخ کوي.

په یوه بل اثر کې د فونولوژي دنده ښودل شوې او په دې اړه ویل شوي دي، چې: غږپوهنه یا اوازپوهنه د ګرامر هغه برخه ده، چې د یوې ژبې ارزښتناک غږونه (فونیمونه) تر څېړنې لاندې نیسي. (۲)

یو وخت یو چا د خبرو په لړ کې یادونه وکړه، چې غږ او اواز یو له بل سره توپیر لري. باید چې اواز و کارول شي او غږ، ونه کارول شي، و مې غوښتل چې په دې برخه کې خبرې ورسره وکړم او ورته ووایم، چې دواړه یو ډول مفهوم افاده کوي. د مختلفو سیمو اوسېدونکي دواړه کاروي، خو فرق یې دادی، چې څوک وایي: پلانکي ته غږ که یا پلانکي ته اواز که. دا هم امکان لري، چې په ځینو سیمو کې یو و کارول شي او بل ونه کارول شي. د ساري په ډول، د خوست ولایت د تڼیو په ولسوالۍ کې (غږ) کارول کېږي او د (اواز) کارول یا خو بېخي نشته او که وارېدل هم شي، په نشت حساب دی. ما ځان داسې تېر کړ، چې ګوندې، زه د ده خبرو ته هېڅ متوجه نه وم.

د غږپوهنې د دندې په باره کې په ډېرو آثارو کې څرګندونې شوې دي. په یوه اثر کې د غږپوهنې په برخه کې ویل شوي دي، چې غږپوهنه (فونولوجي) د اوازونو وظیفې څېړي، چې د مفاهمې په پروسه کې د ژبې د غږیزې بڼې په واسطه ترسره کېږي. په بل عبارت، د یوې ژبې فونیمونه څېړي او ټاکي یې. (۳)

په همدې ډول، په یوه بل اثر کې راغلي دي، چې: غږپوهنه د یوې کلمې فزیکي جوړښت (بوده - تنسته) څېړي. یا غږپوهنه د یوې کلمې د جوړوونکو اوازونو او تورو څپې، یو په بل اغېزې، اړیکې، بدلونونه او ځایونه څېړي. (۴)

په یوه کتاب کې د فونولوژي د نومونې په خوا کې اوازشناسي لیکل شوي او په کې ویل شوي دي، چې:... د غږپوهنې په مبحث کې د تورو د اوازونو او د هغوی له ادا کولو څخه بحث کېږي. (۵) د فونولوژي په باره کې په یوه بل اثر کې لیکل شوي دي، چې: غږپوهه په ټولیز ډول د یوې ژبې لومړني ساده توکونه (غږونه) څېړي. له دې څرګندونې څخه وروسته ویل شوي دي، چې غږپوهه په لنډ ډول په دوو څانګو وېشل کېږي:

- آوازپوهه (فونیمکس).
- سپڼپوهه (فونېټیکس).

په نوموړي اثر کې پورته یادې شوې څانګې په لاندې ډول تشریح شوې دي:

اوازپوهـه: د یـوې ژبـې ارزښـتناک غږونـه (اوازونه) تر څېړنې لاندې نیسي.

سپڼپوهنه: د یوې ژبې ټول غږونه یا سپڼونه

دریم مخ

د خورا پېرزو کوونکي، لوروونکي الله په نامه

## سرلیکنه

# د ژبو نړیواله ورځ

د غبرگولي اتمه (د مې میاشتې ۲۹مه) د ژبو نړیواله ورځ ده، پښتو هم د نړۍ د یوې ژوندۍ ژبې په توگه له ځو کلونو راهیسې، هر کال په هېواد کې دننه او نوره نړۍ کې د مېشتو پښتنو له لوري د پرتمینو مراسمو په ترڅ کې نمانځل کېږي. په دغسې حالاتو او شرایطو کې د دغسې ورځې نمانځنه د ځانگړي اهمیت وړ ځکه ده، چې پښتانه په دې پوه شي، چې ژبې ته یې هغسې چې لازمه ده، کار نه دی شوی، نو باید چې ورته پام واړول شي.

په خپلې ژبې غږېدل، لیکل او لوستل تعصب نه، بلکې د هر انسان یو مسلم حق دی او هېڅوک یې له چا څخه د اخیستو حق نه لري. دا چې وطن پلار او ژبه مور ده، نو که څوک د خپل پلار عزت او د مور خدمت کوي، نو نه له اجازه غواړي او نه هم په دې کار کې زړه نازړه توب کوي، نو باید چې پښتو ژبې خدمت ته متې رابډ وهل شي، ځکه هر څوک حق لري په خپله ژبه فکر، لوست او خبرې وکړي او له دې لارې خپل هویت ثابت او څرگند کړي. که غواړو د ولس د شعور کچه مو لوړه شي، باید چې په خپلې ژبې ورته پیغام ورسول شي، په پردۍ ژبه پیغام، داسې دی لکه په شگو کې چې آس ځغلي.

خو یوه ژبه هغه مهال ژوندۍ پاتې کېږي، چې په خپله بډایه وي او اقتصادي گټې په کې نغښتې وي. دا دواړه عناصر د یوې ژبې په وده او پراختیا کې گټور ثابتېدای شي، د یو شمېر ژبو په خپله بډاینه، خلک اړ وېستي، چې هغه زده کړي. د ژبې د زده کړې بل محرک اقتصادي اړخ یې دی، که یوه ژبه چا ته یوه مړۍ ډوډۍ پیدا کولی شي، هرڅوک یې د زده کولو لېوالتیا ښیي او هڅه

# په لنډیو کې د ښځو د ژوند د ناهیلیو انځور

◉ نامزد څېړنیاره سمیله احمدزۍ

لنډۍ د پښتو ادب یوه بډایه پانگه ده، چې زموږ د ولس د ژوند بېلابېلې خواوې په ډېره ښکلې او رښتیني بڼه انځوروي. لنډۍ د پښتو د ولسي ادب سمندر کې هغه ښکلې مرغلرې دي، چې هره مرغلره په امیلونو، غاړکیو، پېزوانونو، توپکو او تورو کې ځان په خاصو رنگونو، مفهومونو، ځلاوو او ښکلاوو کې را ښیي، لکه عشقي، اجتماعي، حماسي، انتقادي او نور. د لنډیو د ادبي او ټولنیز ارزښت په هکله رازقي نړیوال یوه لیکنه کړې، چې ځینې برخې به یې دلته را نقل کړو:

پښتو لنډۍ د پښتنو د پراخو پرگنو له ډېرې لرغونې زمانې راهیسې یوه ډېره نادره ارزښتناکه شتمنۍ او بې سارې فرهنگي زېرمه ده، هغه چې هم د مضمون له مخې او هم د شکل له مخې بېخي ممتازې بېلگې لري، پښتو لنډۍ زموږ د ولسي ادب یو داسې ستر میراث دی، چې زموږ د ولس د ژوندانه د گردو مناسباتو او ځانگړتیاوو انځور په کې لیدل کېږي.

لنډۍ چې شاعرې یې معلوم نه وي او د ټولنې گډه ادبي پانگه ده، په خپله ۲۲ (۹+۱۳) سېلابه منځپانگه کې یو عالم ښکلي او ظریفانه کیفیتونه را نغښتي دي او دا هغسې مثال لري، لکه چې په څاڅکي کې د ولسونو ذهنیت، کلتور، تمدن هینداره او د هغوی د ذهني او خارجي شرایطو تصوراتو سمندرونه ځای په ځای شوي وي. لنډۍ په بېلابېلو سیمو کې په مختلفو نومونو یادېږي، لکه: لنډۍ، ټپه، مسره او نور. (۱)

د لنډیو عمر او نېټه په اټکلي توگه هم جوتېدای نه شي، د دوی له اورېدلو او لوستلو څخه دومره پوهېدای شو، چې لنډۍ له خورا ډېرو پخوا وختونو څخه راپېدېخوا د پښتون ولس له خوا ویل شوي او د هغوی په منځ کې موجودې دي.

دا چې لنډۍ یا ټپه په ډېرې آسانۍ سره د ولس په ذهن ژر اغېزه کوي او زړه ته نږدې ده، لومړی لامل یې د مفاهیمو ډېروالی دی، لکه مذهبي، او ستمگرۍ داستانونه رسوا کوي او له یوې پېړۍ نه یې بلې پېړۍ ته لېږدوي». (۴)

اوس به راشو د ښځو د ناهیلیو انعکاس په لنډیو کې موضوع ته. ښځې په پښتنې ټولنه کې له ډېرو ناخوالو او محرومیتونو سره مخامخ دي، چې دلته به د ځینو ناخوالو نه پرده اوچته کړو او د دوی د زړه سوی غږ به د لنډیو په ذریعه بیان کړو.

ژوند د هیلو او ناهیلیو داسې لوی سمندر دی، چې څوک په دې سمندر کې د خپلو هیلو او امېدونو مرغلرو ته رسي او څوک هم د ناهیلیو په تورتم کې ډوب او ورک شي، چې اکثرا پښتنې مېرمنې هم د دغو ناهیلیو په ځاله کې راحصارې شي او ډول ډول ناخوالو سره مخامخ شي، کله له دغو ناخوالو نه اوښکې تویوي او کله له خپله بخته گیله منې شي، لکه دا لاندې لنډۍ چې د دوی د مات زړه سوې ساندې دي:

ژاړم لـــــه خپلــــــه بختـــــه ژاړم
پـه پسـرلي کـې مـې ژېـر گـل ورژیدنـه (۵)
***
کـــــه نصـــــیبونه د ځنگلـــــو وای
مـا بـه دا خپـل نصـیب پـه اور سـیزلی و نـه
***
کــــه مـــا ویلـــی، خـــدای منلـــی
مـــا بـــه رنـــگ کـــړي وو لیکلـــي قلمونـــه (۶)
***
بخـــت مـــې لـــه مـــا نـــه مـــرور دی
د بـــد بختی د لاســـه وړې ټولومـــــه (۷)
***

زموږ په ټولنه کې ځینې ناوړه دودونه له اسلامي ارشاداتو سره سمون نه لري. د دې دودونو اکثره قربانیانې مېرمنې دي، چې په دې ناوړو دودونو کې یو هم د علم له زده کړې نه د ښځو بې برخه کېدل دي، لکه دا لاندې لنډۍ چې په دې برخه کې د یوې ښځې بې وسي او ناچاري ښیي:

تـــه سبق وایـــې مـــا نـــه پـــاتې
تـه بـه افسـر شـې زه بـه خـاورې ایـرې شـمه (۸)

نور خپلوان یې د دې د ژوند پرېکړه کوي، هغه مجبوروي چې ارومرو به بل واده کوي، هغه هم له خپل لېوره او یا کوم خپلوان سره، که چېرې کونډه له خسرگنۍ نه خلاصون ومومي، نو بیا یې پلار ورته تصمیم ونیسي، چې دا ناخوالې د ښځو ژوند لا پسې تریخ کړي، نو دوی د خپل د ژوند بې وسي او ناچاري د لنډیو په ذریعه موږ ته داسې بیانوي:

خدایـــــه د کونـــــډو پنـــــا گیر شـــــې
چـــې میـــراث خـــوریـــې پـــه لېوانـــو ودوینـــه
***
پـــه نیمـــه شـــپه ســـوې نـــارې شـــوې
مـــور لـــه لورگـــانو بېلـــوي کـــوکې وهینـــه (۱۲)
***

د دې ترڅنگ نور هم داسې مسایل شته، چې د ښځو په ژوند کې په یوه نه یوه بڼه دخیل دي او د دوی د ناهیلیو لامل گرځي، لکه د یوې واده شوې ښځې د خاوند اوږده مسافري، چې پر ته له شکه په پښتنې کورنۍ کې له هغې ښځې سره چې مېړه یې مسافر وي، ښه چال چلن نه کېږي. په دې لاندې لنډیو کې یې انځورونه وگورئ:

اوس کـــه راځـــې وختونـــه تېـــر دي
زمـــا د مـــخ خالونـــه اوښـــکو وړې دینـــه
***
کلـــه بـــه راشـــې پـــه ژونـــد ورکـــه
زمـا لـه سترگو نـه سپین ځـې ړنـده بـه شـمه
***
مســـــافري دې ډېـــــره وکـــــړه
میاشـتې دې تېـرې شـوې کلونـه دې شمېرمه
***
جانانـــــه لاړې مســـــافر شـــــوې
تـه چـې راځـې بـاغ بـه خـزان وهلـی وینـه (۱۳)
***

نو په پایله کې ویلی شو، په افغاني ټولنه کې، ولسي ادب د یوې پټې خزانې په څېر تر اوسه پوره نه دی ښکاره شوی، که موږ ټولې لنډۍ له ولس نه

کوي، چې زده يې کړي. اوسمهال خو په ډېرى برخو په تېره بيا د ژورناليزم په ډګر کې پښتو ژبې ته اړتيا ډېره محسوسه ده.

پښتو ژبه، که څومره له کاروانه وروسته پاتې هم ده، خو بيا هم د پښتو ژبې له پاره اوسنى روان بهير، د پښتو ژبې سبا ته ډېره هيله مندي پيدا کوي. هم د نظم او هم د نثر په برخه کې ليکوال او څېړونکي لګيا دي، کار کوي. د بېلابېلو اشخاصو او ټولنو له لوري د ژباړو، ليکنو، ادبي بهيرونو، کره کتنو، مشاعرو ترسره کېدل، هر يو يې د ژبې د بډاينې په برخه کې ګټور ګامونه بللى کېداى شي.

دا چارې په خپل ډول کې ښې دي، خو که غواړو، چې پښتو ژبه له نورو ژبو سره سياله شي، د پرديو د کلتور تر اغېزې لاندې رانه شي، بايد علمي شي، کتابونه پرې وکښل شي، د هر مسلک او علم په برخه کې دې د کتابونو، ليکنو او څېړنو زېرمې په کې پيدا شي. مهمه دا ده، چې هرڅوک د مسووليت احساس وکړي او په هر ډګر کې چې څه کولى شي، لاس په کار شي او ليکل وکړي.

دغه راز هرڅوک چې په يوه بهرنۍ ژبه پوهېږي، نو له هغې ژبې دې يوه علمي مقاله، څېړنيز مطلب يا د نړيوال ادب يوه لنډه ليکنه او يا د پوهنې په کومه برخه کې کتاب خپلې ژبې ته را وژباړي، چې په دې توګه به له يوه پلوه د ژبې حق پر ځاى شوى وي او له بل لوري به يې خپلو خلکو ته يو څه خدمت کړى وي.

بله دا چې پښتو ژبه صنعتي شي، په بازار، مارکېټ، سوداګرۍ او په توليداتو کې پښتو ژبه وکارول شي. همدارنګه په ټولنه کې هر ماشوم ته په مورنۍ ژبه د زده کړې حق ورکړل شي.

پښتو ژبه بايد په دفتري او رسمي چارو او دغه راز د اړتيا په اندازې په رسنيو او هنري فعاليتونو او عامو چارو کې کارنده ونډه ولري او له دې وراخوا بايد وګړي د خپلې ژبې په ويلو شرم ونه کړي او کله چې څوک د ځواک او قدرت خاوند کېږي، نه بايد چې د خپلې ژبې خدمت ته شا کړي، هماغه د شاعر خبره ده، چې وايي:

نورې ژبې يادول که دې کمال دى
خپله ژبه هېرول بې کمالي ده

تاريخي، عشقي، سياسي، ملي او نور چې خورا ډېر او خواږه دي، دويم دا چې په لنډيو کې د ژوند هره موضوع په ډېره ښه وجه بيېل شوې وي، درېيم دا چې د لنډيو آهنګ ډېر دردناک او اغېزناک وي، دا درد او سوز ځکه په کې زيات دى، چې تر ډېره د ښځو له خوا ويل شوې او ښځه د ډېر نازک او حساسه طبيعت خاونده ده، څلورم او پنځم دا چې د لنډيو طرز او انداز په ټولو پښتنو کې يو رنګ دى او هېڅکله په کې بدلون نه راځي. (۲)

سره له دې چې تردې دمه د لنډيو ويونکي او د پيلامې نېټه نه ده روښانه، خو بيا هم د مضمون له پلوه داسې برېښي، چې ددې فورم په پنځونه کې ښځې لوى لاس لري. لومړى دليل يې دا دى، چې د نارينه وو په پرتله ښځې ډېرې د ليک او لوست له نعمت څخه بې برخې دي، نو لنډۍ هغه څه دي چې تل سينه پر سينه په شفاهي ډول لېږدېدلې دي او ليکلو ته يې اړتيا نه ده محسوسه شوې، ترڅو يې نوم او هويت پټ وي، ځکه زموږ په ټولنه کې د ښځې له پاره ډېر کارونه شرم او ننګ بلل کېږي، چې شعر او شاعري هم دغسې کارونه دي. بل دا چې بيا هم د نارينه وو په پرتله په ټولنيز ژوند کې د ناوړو دودونو په پايله کې ښځې ډېرې ځورېدلې او قرباني شوې دي، نو دوى هم د خپل احساس د انعکاس له پاره د لنډيو فورم غوره کړى دى او تر ډېره د لنډيو مضمون هم داسې ټولنيز مسايل او موضوعات رانغاړي، چې ډېرې د ښځو په ژوند پورې تړلې وي، لکه د بدو، د تېښتې، دعواګيرې، په زوره ودول، په ماشومتوب کې ودول، زاړه ته د ځواني نجلۍ ودول او داسې نور مسايل، هغه څه چې د ښځو په ژوند يې د بد نصيبۍ تورې پردې غوړولې دي او تر ډېره ښځينه لنډۍ هم همدا برخه را نغاړي، پرته له شکه هر هغه لنډۍ چې دا ډول محتوا او مضمون ولري، هغه په دې دلالت کوي چې دا لنډۍ يوې ښځې ويلې ده. (۳)

پياوړى شاعر اکاډميسين سليمان لايق د لنډيو په اړه، څه ښه ويلي دي: «لنډۍ د پښتنو پرګنو د ادبياتو په تاريخ کې هغه ياغي شعر دى، چې پر له پسې يې حقيقت ستايلى دى او هېڅکله د هېڅ راز حدودو او قيودو اطاعت نه کوي، يوازې حقيقت ستايي او د ټولو په سر کې ښځه ستايي او د هغې په باره کې د مسلط نارينه د زور زياتي

او يا دا چې:

ته سبق وايې مبارک شه
ته به ملا شې زه به خاورې ايرې شمه
***

له نورو محروميتونو سره سره، د پښتنې ښځې له وير او دردونو ډک ژوند هغه وخت د خپلې بدمرغۍ او مصيبت وروستي پړاو ته رسېږي، چې آن د خاوند د ټاکلو حق له لاسه ورکړي، پښتنه ښځه هم د جهان د ټولو ښځو په څېر د احساس، وجدان او ذوق څښتنه ده او د ښکلي، ناښکلي، ښه او ناښه، مناسب او نامناسب له پاره معيارونه او قضاوتونه لري، خو په ځينو پښتني سيمو کې هغې ته ددې موقع نه ورکول کېږي، چې د خپل وجدان حکم او قضاوت د خپل ژوند په عمل کې څرګند او پلى کړي، نو تل يې هڅه کړې، چې د دې شرايطو او مفکورو په وړاندې خپل غبرګون ورته کړي، لکه په بدو کې ښځو ورکول، په زور ودول، زاړه ته د ځوانو نجونو ودول او داسې نور. دا مسايل په لاندې لنډيو کې ښه روښانه کېداى شي:

که مې د بدو نصيب نه واى
چېرې موزې چېرې د ګلو صورتونه
***
قلم مات شي بختـه واورې
صورت ته خوار شې چې موزيان دې زړوينه
***
ستا به له مانه ګيله کېږي
زما د کور په خلکو نه رسي لاسونه
***
خرڅه دې کړم ښاده دې نه کړم
کور دې ويران شه بابا خپله لور دې ومه (۹)
***
زه د ظالم دادا له لاسه
د مرګي سيند ته ولوېدم کښته مې وړينه
***
په سره دوزخ کې دې ډېره شه
کور دې ډېره (۱۰) شه چې دې اور ته ونيومه (۱۱)
***

کونډه چې په اسلامي شريعت کې په پوره ډول د آزاد ژوند حق لري، که زړه يې وغواړي، له يو چا سره واده وکړي، دا يې حق دى او که ويې نه غواړي، نو څوک يې مجبورولى نه شي، خو زموږ په ټولنه کې د کونډې ژوند چې د مېړه له مړينې وروسته د مظلوميت ژوند ته اوړي، پلار، ورور او

راټولې کړو، نو بې له شکه به د افغاني ښځو پر وړاندې د ناخوالو او تاوتريخواليو ډېرې بېلګې په کې راڅرګندې شي. که څه هم پښتنې ښځې د ژوندانه په ډګر کې له ډېرو محروميتونو سره مخامخ شوې دي، خو دوى خپل احساسات او غوښتنې په پوره جرئت سره د هرې نادودې په وړاندې د اعتراض په توګه څرګندې کړې او د خلکو غوږونو ته يې د محرومو کسانو اصيل او رښتوني غبرګون رسولى دى. پښتو لنډۍ د خپلې غوره ځانګړتيا له مخې د دوى د احساساتو، عواطفو، دردونو، رنځونو او ټولنيزو غوښتنو د انعکاس ډېره ښه وسيله ده، نو ځکه دوى د خپل د زړه سوي غږونه د لنډيو په خوږه ژبه موږ ته رارسولي دي.

په پورته ډول په زرهاوو ډېر رنګين مثالونه په ليکلي او ناليکلي ډول شتون لري.

اخځليکونه:


۱-نړيوال رازقي، د پښتو لنډيو ادبي او ټولنيز ارزښت، کابل مجله، (۷ - ۸)ګڼه، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، د پښتو ژبې او ادبياتو انسټيټوټ، ۱۳۸۱المريز کال، ۸۴مخ.
۲ -نورستانی عاطفه، په پښتو لنډيو کې د ښځو مقام، کابل مجله، (۱۱ -۱۲)ګڼه، ۱۳۸۸المريز کال، ۱۴۳مخ.
۳ -تقوا محموده، لنډۍ د ښځو پنځونه، د افغانستان د اوسنيو ادبياتو اووم ملي جشن، د مقالو مجموعه، ګويټه انسټيټوټ، ۱۳۹۲المريز کال، ۵۳-۵۲مخونه.
۴ -منګل، علي محمد، د پښتو لنډيو په ارزښتمنو مرغلرو کې د پسرلي د ياد رنګينه رنګيني، کابل مجله (۱ -۲) ګڼه، ۱۳۸۵المريز کال، ۱۶۵مخ.
۵ -بېنوا عبدالرووف، لنډۍ، ۱۳۳۷کال، د ملي دفاع وزارت مطبعه، ۲۳مخ.
۶ -داوود، داور خان، پښتو ټپه، ۴۱مخ.
۷ -امېل، اوږی، د مېړمنو برخه په لنډيو کې، د افغانستان د اوسنيو ادبياتو اووم ملي جشن، د مقالو مجموعه، ګويټه انسټيټوټ، ۱۳۹۲المريز کال، ۴۴مخ.
۸-طاير، محمد نواز، ټپه او ژوند، پېښور، ۲۰۱۲ميلادی کال، ۴۱مخ.
۹ -لايق، سليمان، لنډی ها: الګوی جهان بينی پشتون، د افغانستان د اوسنيو ادبياتو اووم ملي جشن، د مقالو مجموعه، ګويټه انسټيټوټ، ۱۳۹۲المريز کال، ۷۳مخ.
۱۰ -ډېره: هديره.
۱۱ -نوري، فريدالله، د ښځو په ادبياتو «لنډيو»کې د دوی پر وړاندې د تاوتريخوالي پيغامونه، د افغانستان د اوسنيو ادبياتو اووم ملي جشن، د مقالو مجموعه، ګويټه انسټيټوټ، ۱۳۹۲المريز کال، ۴۱مخ.
۱۲ - www.rohi.af
۱۳ - www.rawzana.com

# د ادبپوهنې...

په ادبي څېړنو او مطالعاتو کې د دې لارې تطبيق داسې دی، چې بايد داسې عمومي اصول وپلټو، چې پر کلي او عمومي تصوراتو، لکه افاقيت، عموميت او قطعيت باندې ولاړ وي او ادبي پديدې له دې لارې د عيني واقعيتونو په توگه په بشپړه بې طرفۍ سره مطالعه او وڅېړو.

**علي يا د عليت لاره:**

کله چې يوه پېښه يا يو شی د يوې پېښې يا شي د وقوع او پېښېدو د تعقيب په پايله کې رامنځ ته شي، لومړنۍ پېښه يا شی د پېښې او شي علت او دويم شي پېښه د هغه شي او يا پېښې معلول بولي. د طبيعي علومو په ډېرو څېړنو کې دغه اصول، چې د علت د قانون په نامه ياديږي، کارول کېږي.

په ادبپوهنه کې د دې لارې او روش تطبيق او پلي کېدل، په دې ډول دي چې ادبي پديدې د ټاکلو او مشخصو علتونو معلول گڼي، نو د هغو علتونو په پلټنه موندنه او تشريح پيل کوي. د دې لارې بنسټ لکه څنگه چې د ادبي پديدو د رامنځ ته کېدو اصل علتونه هماغه د ټولنې سياسي، اقتصادي او ټولنيزه اوضاع او حالت دی، چې دغه ادبي آثار په کې منځ ته راځي.

**کمي يا مقداري لاره:**

دغه لاره، چې په واقعيت کې د طبيعي علومو په څېړنه کې د پديدو اندازه کول او مقدار معلومول د گرافونو، شمېرو او ارقامو، احصائيو، نقشو او داسې نورو په وسيله ترسره کېږي، په ادبپوهنه کې يې هم تطبيق کړې ده.

د دې ټولو لارو ترڅنگ يو بل روش او لاره هم شته، چې د ژوند پوهنې يا ژوند پېژندنې له نظريو او تيوري گانو څخه په کې استفاده کېږي. دغه لاره د ادبياتو د تدريجي بدلونونو د ساحې او اندازې د ټاکنې له پاره په ادبپوهنه کې کارول شوې ده، خو د دې لارې د تطبيق پايلې په ادبپوهنه کې ډېرې قناعت بخښوونکې نه دي ثابتې شوي.

**د ژبپوهنې لاره:**

د دې لارې او روش له مخې، ادبيات چې يو ژبنی هنر او د ژبې غوره او ښکلې بڼه او ډول دی، د ژبپوهنې له اصولو او ضوابطو سره سم مطالعه او څېړل کېږي. د دې لارې لارويان وايي، چې ادبپوهنه اساساً د دې پوښتنې حل ته ځواب وايي، چې کوم شيان يو ژبني پيغام ته هنري اړخ او ارزښت ورکوي.

د ادبپوهنې اساسي موضوع د ژبني هنر د بېلابېلو اړخونو او ځانگړنو او نورو انساني کړنو مطالعه ده، نو له همدې امله ادبپوهنه د ژبپوهنې يوه مهمه موضوع گڼل کېږي.

د ژبپوهانو په اند، ادبپوهنه د ژبې د جوړښت مسايل هماغسې څېړي، لکه چې انځورپوهنه د انځور جوړښتونه څېړي. څرنگه چې ژبپوهنه په عامه توگه د ژبې علم دی او ادبپوهنه د ژبې يوه ځانگړې بڼه او ډول، يعنې هنري ژبه مطالعه کوي، د عمومي ژبپوهنې يوه څانگه جوړوي. (۳)

"د ادب د تيورۍ اساسونه" اثر ليکوال د ادبپوهنې د ميتودولوژۍ په اړه د مفصل بحث په ترځ کې د ادبپوهنې يو شمېر ميتودونه راپېژني، چې دلته يې په لنډيز سره رااخلو.

**۱ -د بيوگرافۍ ميتود:**

په دې ميتود کې يو ادبي څېړونکی د يو شاعر او ليکوال د آثارو په باب څېړنه له بل هر څه نه زيات د ده د ژوند (بيوگرافۍ) د څېړنې پر بنسټ وړاندې کوي. سره له دې چې دا ميتود تراوسه زموږ په ادبي څېړنو (ادبپوهنه) کې د يو اساسي ميتود په توگه کارول شوی، خو دا نه شي کولای چې د اوسنۍ زمانې د يو څېړونکي ادبي تنده ماته کړي.

د بېلگې په توگه: د خوشحال خټک په اړه د ادبي څېړنې د دغه ميتود يادونه کوو. د خوشحال د بيوگرافۍ په استناد، ځينو هغه ته منفي ارزښت ورکړو، ځکه چې د ده ژوند او بيوگرافي د دې شاهدي ورکوله، چې هغه له پلرونو او نيکونو راهيسې د پرديو په خدمت کې او د خپلو په دښمنۍ کې و، چا د همدغه ژوندليک او بيوگرافۍ له مخې هغه د پښتنو د ملي او سياسي غورځنگ اتل او مخکښ وباله، ځکه لکه له ژوندليک څخه چې يې څرگندېږي، د عمر ډېرې مهمې برخې يې د پښتنو د ملي ارمانونو د پوره کولو له پاره له غليمانو سره په سرښندنه تېرې کړې دي. دلته لويه نيمگړتيا دا وه چې په دې باب له داسې ميتود څخه کار نه اخيستل کېده، چې هغه اقتصادي، ټولنيز او سياسي عوامل وڅېړي، چې د خوشحال خان هغه او دا خواوې يې زېږنده دي. د دغه ميتود پرځای اوس څېړونکو د ادبي څېړنو علمي ميتود ته مخه کړې ده، چې دغه نيمگړتيا په کې نه احساسيږي.

**۲ - پرتليز (مقايسوي) ميتود:**

په نړيواله کچه په ادبپوهنه کې پرتليز ميتود هم شته، چې د علمي ارزښت او اغېزمنتيا له مخې يې د بيوگرافي ميتود په انډول تله زياته سپکه ده، د دغه ميتود اساس د بېلوبېلو ولسونو د بديعي ادب او همدارنگه د ولسي ادب په پراخه مقايسوي څېړنه او د تمثالونو او کرکټرونو او سوژو ترمنځ يو له بله په پرتلنې ولاړ دی.

د دغه ميتود پيروان، په داسې حال کې چې د بېلو بېلو ولسونو ادبيات، د هغوی يو له بله ارتباط، يو په بل باندې اغېزې او د پرتلنې وړ نور اړخونه سره مقايسه کوي، هغوی د هر ولس، د هرې ټولنې او هرې ژبې ادبيات په ځانگړې توگه نه، بلکې د ټول بشريت جهاني ادب ته، که په هره زمانه کې وي او که د نړۍ په هره لويه وچه کې وي، د يوې واحدې پېښې د پديدې په توگه گوري او هغه په پراخ چوکاټ کې څېړي.

د مقايسې له لارې د نړۍ د ولسونو د ادب څېړنه يو گټور او اړين کار دی، خو د دغه ميتود لارويان هڅه کوي، دا ثابته کړي چې د بديعي آثارو سوژې، تمثالونه، کرکټرونه او نور کوم ابتکاري ارزښت نه لري، بلکې د ادب په بېلوبېلو پړاوونو کې يوائځې او يوائځې په اوښتې بڼه تکرارېږي او کېدای شي د معاصر ادبي اثر د سوژې کرکټر او تمثال په مشابه ډول په ډېرو لرغونو پېړيو کې وموندل شي.

دوی په دغه ميتود سره له خپلو څېړنو داسې نتيجه ترلاسه کوي، چې گڼې ادب د ژوند هينداره نه شي کېدای، بلکې له لرغونو پېړيو څخه تراوسه پورې په بېلوبېلو آثارو کې د مندرجو پاړکيو او ټوټو مجموعه ده.

دوی زيار باسي چې د خپلې ادعا د ثبوت له پاره به بېلوبېلو پېړيو کې له منځ ته راغلو آثارو څخه د فورم له مخې مشابه او ورته پاړکي راټول کړي او په يو معاصر اثر کې د تطبيق په عرض يې د سند په توگه وړاندې کړي. د دې ميتود پيروان په خپلو څېړنو کې د دغو پاړکو په رڼا کې، په دې پسې نه گرځي چې دغه ادبي آثار کله، څنگه او کومو شرايطو کې پيدا شوي او نه دوی په دغو آثارو کې هغو ملي خصوصياتو او ځانگړنو ته پاملرنه کوي، چې په دغو آثارو کې انځور او منعکس شوي دي.

**۳ - علمي ميتود:**

په ادبپوهنه او همدارنگه د هنرونو په نورو ډولونو کې يو بل ميتود کارول کېږي، چې هغه د علمي ميتود په نوم يادېږي. دغه ميتود له بيوگرافي ميتود او پرتليز ميتود څخه بېخي جلا دی.

د دغه ميتود پيروان، چې ادب د يوې ايډيالوژيکي ژورې ټولنيزې روزنې د يوې ډېرې ځواکمنې او قوي وسيلې په توگه گڼي، هغه د ټولنې له اجتماعي، اقتصادي، سياسي او تاريخي پايلو څخه جلا او مجرد نه، بلکې له هغو سره په ارتباط او اړيکه کې څېړي.

دغه ميتود ادب د خاصو شرايطو هينداره او ځانگړي شرايط د هغه د پيدايښت مور او پلار گڼي. (۴)

د ادبپوهنې د ادبي څېړنو او ادبي مطالعاتو د ميتودولوژۍ په ساحه کې، ښايي په نړيوال ادب کې ځينې نورې څېړنيزې لارې او ميتودونه هم دود وي، خو موږ دلته په دې برخه کې ځينې هغه عام ميتودونه په لږ و ډېر لنډيز سره تشريح کړل، چې زموږ په ادبي فرهنگي عنعنه کې دود، زموږ ادبپوهان ورسره آشنا او په ادبي څېړنو او مطالعاتو کې ورڅخه استفاده کوي.

اخځليکونه:


(۱) شينواری دوست (سرمحقق)، د ادب تيورۍ اساسونه، د چاپ او خپرونو دولتي کمېټه، کابل، ۱۳٦۵لمريز کال، ۱۰۱مخ.

(۲) الهام، محمد رحيم (اکاډميسين کانديد)، په ادبي تاريخ ليکنه کې د ميتود ضرورت، د ادبي تاريخ ميتودولوژي، د علومو اکاډمۍ، ۱۳٦۷لمريز کال، ۱ -۴مخونه.

(۳) الهام محمد رحيم (پوهاند)، تيوری های ادبي و نقد ادبی، کابل پوهنتون، ۱۳۵۸لمريز کال، ۵مخ.

(۴) د ادب تيورۍ اساسونه، ۱۰۱ - ۱۰۳مخونه.


## لنډۍ د استاد بېنوا...

عروضو تابع دي، خو دا اشعار نه يوائې له عربي عروضو څخه بې نيازه دي، بلکې د سېلابي سيستم په اساس ځان ته عروض لري، لومړۍ برخه او نيم بيتي يې لنډ نهه (۹) سېلابه او دوهم نيم بيتي او برخه يې اوږده ده، ديارلس (۱۳) سېلابه ده.

د دې اشعارو يو بل ځرګند او جوت خصوصيت دا دی، چې زياتره په کې د ښځو له خوا نارينه ته خطاب او يادونه وي او څنګه چې د ښځې احساسات تر نر رقيق، تأثرات يې تر نر اغېزناک او غږيې تر نر خوندور او لذيذ دی، نو په لنډيو کې هم طبعاً تر نورو اشعارو خوند او اغېزه زياته محسوسه کېږي او په زړونو ډېر ژور اثر غورځوي.

همدا شان، هره يوه لنډۍ، د ملي موسيقۍ يو داسې نوټ بللی شو، چې پر مختلفو طرزو او آهنګو باندې غږول او ويل کېدای شي. هم د رزم، هم د بزم، هم د سفر، هم د حضر، هم د ناستې، هم د غم او هم د خوښۍ د حالاتو له راز راز لحنونو سره سمون خوري، يعنې هره يوه لنډۍ د ملي موسيقۍ پر ډول ډول آهنګونو او وزنونو باندې غږولای شو."

زموږ د نوميالي او وتلي ستر عالم او لوی اديب استاد بېنوا د لوړ او عالي نظر له مخې، چې پورته په ځلاندو ادبي ټکو کې د ده د ستر فکر له مخې وړاندې شو، د هغه په رڼا کې دومره ويلی شو، چې لنډۍ بې له شکه د پښتون تاريخي ولس، د تاريخ او ټولو ټولنيزو کردارونو د بشپړ تصوير او د ژوندانه د رنګينيو ستره هينداره ده، دا په دې معنا او مفهوم، چې د پښتانه د غښتلي ولس د ټول تاريخ په اوږدو کې د دوی د ژوندانه په بېلو بېلو اړخونو کې، د هغو د ټولنيزو کړنو، دودونو، رسمونو او ټولو کړنو په راځلولو کې لنډۍ په پوره رنګ برخه لري.

دلته به يې يوه يوه بېلګه، د دغې لنډې يادونې او د استاد بېنوا د روح د ښاد بېدو له پاره، د لمنې او پای سپرغې او ګلونه کړو،

چې ادبي مينه به مو هم پرې ماته شي :

خدای به دې بيا په ګوتو راکي
ماته د کلي ماشومان دعا کوينه
***

رب به دې بيا په ګوتو راکي
سپينې غړۍ نه به دې خلاصې تنۍ کمه
***

د وطن ترخې مې خوراک وای
چې په کې نه وای توغندي يو سره اورونه
***

خدايه هغه ساعت به کوم وي
چې د وطن په سوله وشيندم ګلونه
***

ځان به سل ځای ټوټې ټوټې کم
وطنه! تا به له غليم ځنې ساتمه
***

که پېزې ټيک دې راته جوړ که
جانانه ټولې دې په مينه خپلې کړمه
***

د پيرنګي پلټنې راغلې
جنګ په ميوند دې پښتانه ځلمي ورځينه
***

راشه پاچاشاه نوکري پرېږده
نوکر زما شه سپينه خوله به دې درکومه
***

کابل ته مه ځه زما ګرانه
خشنګي پېغلې په خندا کوي ښکارونه

## کورمه د پښتو...

نري باران دی پاس په لوړيې ورويته
ژوري کورمې ته نصيب را وړي يمه
جانانه لاس راکړه چې دواړه سره ځونه
*****

سمه کورمه تالا کېږي وای نري باران دی
ما له ياره بېلوينه وای نري باران دی
*****

که څه هم توري او ځاځي دوه وروڼه وو، خو د وخت په تېرېدو سره، توري او د ده اولاده په کورمه او ځاځي له خپلې اولادې سره په اريوب ځاځيو کې مېشت شول او بيا چې ځاځي د نفوسو د شمېر له مخې د پکتيا په څلورو ولسواليو اريوب ځاځي، احمدخېل، ډنډه پټان او ځاځي ميدان کې سره ووېشل شول، نو اوس هم په همدغو سيمو کې ژوند کوي، خو کله ناکله د توريو او ځاځيو ترمنځ جنګ جګړې هم پېښې شوي او يو بل ته يې مرګ ژوبله اړولې ده، که څه هم دغه شان تاوتريخوالي ډېر دوام نه دی موندلی، خو د ناوړو عواقبو اثراتو يې په ولسي ادب کې ځان راښکاره کړی او په يو نه يو ډول يې دغه شان تاوتريخوالی غندلی دی، لکه په لاندې بيت کې چې ليدل کېږي :

ځاځيو ونيول د جګو غرو سرونه
د سمې کورمې جينکۍ ژړا کوينه

او يا لکه په لاندې پښتو متل کې يې چې ګورو : توري پور غواړي، ځاځي نور غواړي

په دې توګه ويلای شو، چې کورمه د تاريخي افغانستان هغه ښېرازه، ودانه او سمسوره دره ده، چې د تاريخ په اوږدو کې يې خپل تاريخي اهميت او ستراتيژيک ارزښت ساتلی دی.

*****

(۱) کويړي لاسونه = ځوړند لاسونه.

(۲) د ۱۳۴۰ هـ ش کال په شاوخوا کې د کورمې په درياب کې دومره ستر او تباه کوونکی سېلاب راغی، چې زياتره کروندې يې له منځه يوړې، نو بيا د ځاځيو يو ولسي شاعر ارواښاد عبدالله خان د دې پېښې په تاثر کې د کورمې له خلکو سره د خواخوږۍ د ښکاره کولو په موخه دا ابيت ووايه.

## فونولوژي...

که ارزښت ولري يا يې ونه لري، يو مخيز تر څېړنې لاندې نيسي. د ساري په ډول، (دال) د پښتو يو ارزښتناک غږ (اواز) دی، خو په ويي يا څپه کې له راز راز دريځ سره بېلابېلې بڼې ځان ته غوره کوي، داسې چې وينګ يې د ويي يا څپې په يوه برخه کې زورور وي او په بله کې کمزوري يا نيم کمزوری، لکه په (دود) کې، چې لومړی (د) تر دويم هغه غښتلی ويل کېږي او دويم بېخي د (ت) وينګ ته نږدې کېږي. د فونټيکس له پلوه يې په لومړي، دويم او.... (دالونو) وېشو او د فونيمکس له پلوه يې د هماغه يوائيني (دال) په توګه پېژنو. (٦)

اخځليکونه :

(۱) پوهنوال محمد صابر خويشکی، پښتو غږپوهنه او وييپوهنه، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، جرمني، ۱۳۸۰ المريز کال، ۱۰مخ.

(۲) محقق سيد محی الدين هاشمي، د پښتو ژبې لنډ ګرامر (صرف -نحوه)، د اريک د ګرځنده کتابتونو اداره، د الازهر مؤسسې چاپ، ۱۳۸۳ المريز کال، ۱۳مخ.

(۳) سرمحقق دوکتور عبدالحکيم هلالي، د پښتو ژبې فونولوجي، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، د پښتو ژبې او ادبياتو انسټيټوټ، د ښوونې او روزنې مطبعه، ۱۳۷۰ المريز کال، ۵۸مخ.

(۴) پ ښ پېښوری شينواری، پښتو ګرامر لنډيز، اباسين د پښتو خپرونو مؤسسې خپرونه، ۳مخ.

(۵) صديق الله رښتين، پښتو ګرامر (لومړی ټوک)، پښتو ټولنه، عمومي مطبعه، ۱۳۲۷ المريز کال، ۴مخ.

(٦) پوهندوی دوکتور مجاور احمد زيار، پښتو پښويه (ګرامر)، دويم لاسوهلی ازميښتي چاپ، ادب پوهنځی، ۱۳۵۷ المريز کال، ۱ - ۲ مخونه.

# بيرغ

شفيقه خپلواک

زما بيرغ خو له رنګونو جوړ دی
ته يې دا تور رنګ د وحشت رنګ بولې
خو ماته سکون د تورې شپې راکوي
هغه هغو تيارو ته ورته دی چې
زما ډېوې سترګې په کې بلې
او زړه مې په کې ساه اخلي
هر رګ په کې پناه اخلي
هغه تور رنګ د هغه ماښام رنګ ته ورته دی
چې زه مې د خپل مين لارې په کې څارم
له هغو تيارو جوړ دی
په هغو تيارو کې
چې زه او جانان مينه کوو
او همېشه خبره سپينه کوو
اخ ! دغه الوان رنګ
چې ته يې جنګ بولې
او سرې خونکارې وينې ښکاري
خو نه نه ! داسې نه ده
هغه زما له سورکو شونډو جوړ دی
هغه زما د ګلاب زړه رنګ لري
هغه د هغې مينې رنګ دی چې
بېګاه مې راته مور راکړه
او د زيارت هغه نڅاګره جنډه
دغه زرغون رنګ لکه زما پېغلتوب
لکه زما پسرلنۍ سترګې
لکه زما د مين شنه او عطرينه غېږه
لکه په شنو پاڼو کې د باران څو څاڅکي
لکه د خدای زړه سوی
لکه لطيف حسن
زما بيرغ زما پلو کې راشين
زما بيرغ زما پلو کې راشين

چهارشنبه ■ ۵ - ٦مه ګڼه ■ دریپمه دوره ■ پرله پسې ۲۰۵ - ۲۰٦مه ګڼه ■ ۱۳۹۳ لمریز کال د غبرګولي ۲۸مه ■ ۱۴۳۵هـ ق کال د شعبان المعظم ۲۰مه ■ ۲۰۱۴ زیږدیز کال د جون ۱۸مه ■ ۴مخ


# زېرى

پنځلس ورځنۍ جریده

د تأسیس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

د کتونکې ډلې تر څارنې لاندې

مسوول مدیر: څېړندوی محمداصف احمدزی

مهتممه: څېړندویه ملکه مشتري

zerai1316@gmail.com

www.facebook.com/Zeerai1316

۰۷۷۷۳۰۰۴۷۱

د افغانستان د علومو اکاډمي

د ژبو او ادبیاتو د علمي مرکز

خپرنیز ارګان

پته: د افغانستان د علومو اکاډمۍ ودانۍ،

نوی ښار، کابل - افغانستان

کمپوز او ډیزاین: م. ا. احمدزی


د هندوستان د رامپور د پښتني سیمې د ستر پښتون عالم او څېړونکي

# مولانا امتیاز علي خان عرشي

## ژوندلیک او علمي او ادبي کارنامو ته کتنه

● ډاکټر لطیف یاد طالبي

مولانا امتیاز علي خان عرشي چې د علم او فضل انګازې یې د هند په نیمه وچه (برصغیر) کې هرې خواته خورې شوې دي، هغه ستر پښتون عالم وچې نن، نه یوائې د هند پښتانه پرې ویاړي، بلکې د نړۍ د ټولو پښتنو له پاره یو ستر ویاړ ګڼل کېږي.

مولانا امتیاز علي خان عرشي د مختار علي خان زوی، د اکبر علي خان لمسی او د مشرف خان کړوسی دی. د ده کورنۍ د اتلسمې پېړۍ په دوهمه نیمایي کې د پښتونخوا د سوات له سیمې نه هندوستان ته لاړه او د هند د اتهرپردېش د ایالت د روهیلکهنډ د سیمې په رامپور کې مېشته شوه. دا هغه وخت وچې په هندوستان کې د مغولو واکمني مخ په ځوړ تیا وه او د هند په هره سیمه کې ملوک الطوایفي وه. په دغه وخت کې د هند په روهیلکهنډ کې هم د پښتنو یو ریاست شتون درلود، چې نواب علي محمد خان یې نواب او مشر و. د عرشي نیکه مشرف خان خپله پلرنۍ دنده، چې پوځي دنده وو. نو د داسې سترو عالمانو په شتون کې د عرشي له پاره د علمي زده کړو ښه زمینه برابره وه. له همدې کبله وچې عرشي په ۱۹۲۴ زیږدیز کال له همدې کالج نه د (مولوي فاضل) علمي سند ترلاسه کړاو بیا یې د (منشي فاضل) علمي سند هم په لاس راووړ. تر هغه وروسته په انګرېزي ادبیاتو کې یې هم ډیګري واخیسته.

مولانا عرشي لا کوچنی و، چې د شعر او شاعرۍ مینه ورسره پیدا شوه. په پیل کې، ده په شاعرۍ کې د تاج تخلص کاوه، خو بیا یې د عرشي تخلص ځان ته غوره کړ. ده په شعر او شاعرۍ کې زیاتره غزل ته پاملرنه کوله، خو ځینې رباعي ګانې یې هم لیکلې دي. هغه زیاته موده د رامپور د پښتنو د مشهور کتابتون رضا لایبرري مشر پاتې شو. نوموړي په ۷٦ کلنۍ کې له دې نړۍ نه سترګې پټې کړې دي.

**د عرشي ادبي او علمي خدمتونه:**

لکه چې د مخه وویل شول، پښتو د عرشي مورنۍ ژبه وه او د دې ترڅنګ په عربي، اردو، ۱۹۴۷ زیږدیز کال په اورینټل کالج میګزین لاهور کې چاپ شوې ده.

عرشي سربېره پر دې، چې په پښتو ښه پوهېده، په فارسي ژبه یې هم ښه شاعري کړې ده.

په ۱۹۵٦ زیږدیز کال، کله چې د پښتو ژبې مشهور شاعر او لیکوال او پیاوړی څېړونکی اروابناد استاد عبدالرووف بېنوا په نوي ډهلي کې د افغانستان په سفارت کې د کلتوري چارو مشر او مطبوعاتي مدیرو، نو ده، اروابناد امتیاز علي خان عرشي ته، چې په هغه وخت کې د رامپور د رضا لایبررۍ مشرو، یو لیک واستاوه او د پښتو ژبې د مشهور شاعر قاسم علي خان اپریدي فرخ آبادي د دېوان مایکروفلم یا کاپي او نقل یې ځینې وغوښت، خو مولانا امتیاز علي خان عرشي، ده ته په فارسي کې د شعر په ژبه داسې ځواب ورکړ، چې زه به د استاد بېنوا د لیک په ځواب کې د ده فارسي شعر راوړم او بیا به د هغه شعر ژباړه ګرانو لوستونکو ته په پښتو وړاندې کړم.

✷ محمد اصف احمدزی

# ادبي او فرهنګي خبرونه

### د پکتیا پوهنتون علمي او ادبي بهیر پیل شو

په پکتیا پوهنتون کې د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي له خوا د غويي میاشتې په دېرشمه نېټه ادبي بهیر پرانیستل شو. د دې علمي او ادبي بهیر بنسټګر او د ژبو او ادبیاتو پوهنځي رئیس پوهنیار یارمحمد پکتین، د دې بهیر موخه د محصلینو د علمي، فرهنګي او ټولنیزو استعدادونو غوړول او لوړول او د فرهنګي هڅو او فعالیتونو لا پیاوړي کول په ګوته کړې ده.

*****

### د شاعر او لیکوال واصل وصال نمانځغونډه تر سره شوه

د ځوان لیکوال، ژورنالیست او شاعر محمد واصل وصال د ادبي فرهنګي فعالیتونه د قلم ټولنې له لوري د غبرګولي په دوهمه نېټه د یوې غونډې په ترڅ کې ونمانځل شول. د نوموړي د ادبي هڅو په ویاړ دې غونډه کې، چې په کابل ښار کې جوړه شوې وه، د هېواد له ګوټ ګوټ څخه لسګونو شاعرانو او لیکوالانو ګډون کړی و او د وصال پر شاعرۍ او لیکوالۍ په کې مقالې ولوستل شوې. په دې غونډه کې نوموړي ته، چې شپږ هنري آثار لري، د اتو بېلابېلو ټولنو له لوري ستاینلیکونه ورکړل شول.

*****

### د هلمند پېژندنې سیمینار جوړ شو

د هلمند ولایت په مرکز لښکرګاه کې د هلمند پېژندنې علمي - څېړنیز سیمینار د غبرګولي په دویمه نېټه ترسره شو. په دې سیمینار کې چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له مرستیال او د علومو اکاډمۍ له علمي غړو سربېره لسګونو پوهانو، لیکوالو او ادیبانو ګډون کړی و، د هلمند د کرنې، اقتصاد، پوهنې، امنیت، بیارغونې او فرهنګي څرنګوالي په اړه په کې خبرې وشوې.

د دې سیمینار د جوړېدو موخه په نوې بڼه هېوادوالو ته د هلمند ولایت ور پېژندل په ګوته شوې دي. په دې سیمینار کې د علومو اکاډمۍ سلاکار څېړندوی حبیب الله رفیع، هلمند د ادب او ادیبانو زانګه وبلله او زیاته یې کړه، چې ولسي فولکلور او ادب لومړی په دې ولایت کې پنځول شوی دی، په دې ولایت کې داسې ډېر فولکلوري مواد شته، چې راټولول یې د لیکوالو او څېړونکو هلوځلو ته اړتیا لري.

*****

### د هلمند سیند مشاعره ترسره شوه

د هلمند په مرکز لښکرګاه کې د "هلمند سیند" کلنۍ دودیزه مشاعره د غبرګولي په دریمه ترسره شوه.

یه دی مشاعره کی د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت یر چاروکو سربیره د ولسی جرګی غړو او له

وه، پرېښودله او د علم او ادب لاره يې غوره کړه. پښتو د ده مورنۍ ژبه وه، خو د دې ترڅنګ په فارسي، اردو او عربي ژبو هم پوهېده. د عرشي پلار مختار علي خان هم په علم او فضل کې د شهرت خاوند و، چې لومړی يې پوځي دنده درلودله او بيا د ماليات په څانګه کې يې سرکاري ملازمت کاوه او تر هغه وروسته يې د آسونو سوداګري کوله.

د عرشي د مور کورنۍ هم يوه عالمه او فاضله کورنۍ وه. مورنی نيکه يې غلام قادرخان په پښتو، فارسي او عربي ژبو کې مهارت درلود او غلام قادرخان او کورنۍ يې د احمدشاه بريلوي مريدان وو، نو ځکه مولانا امتيازعلي خان هم د بريلوي مسلک پيروي کوله.

مولانا امتيازعلي خان عرشي د ۱۹۰۴ زېږديز کال د ډيسمبر د مياشتې په اتمه نېټه په رامپور کې زېږېدلی دی. په دوه نيم کلنۍ کې يې مور مړه شوه او پلار يې دوهم واده وکړ. مولانا په پنځه کلنۍ کې په مدرسه کې شامل شو او د پښتو ژبې ترڅنګ يې د فارسي او عربي ژبو په زده کړه هم پيل وکړ. په ديارلس کلنۍ کې يې ګلستان، بوستان، يوسف زليخا او سکندرنامه ولوستل. د ده له استادانو نه يو مشهور استاد عبدالرشيدخان و. عبدالرشيدخان د هغې سيمې د مشهور عالم مولانا عبدالحق خيرآبادي له شاګردانو نه و. مولانا عرشي د عربي ژبې زده کړه، له مولانا عبدالرشيد خان نه وکړه، عرشي تر يوې مودې پورې د مطلع العلوم د مدرسې شاګرد و او د دغې مدرسې له مشر مولوي سعيد احمد نه يې په عربي ژبه کې نور تبحر هم ترلاسه کړ.

مولانا عرشي په ۱۹۲۳ زېږديز کال د پنجاب له پوهنتون نه د (مولوي فاضل) د زده کړو د سند د ترلاسه کولو له پاره د لاهور په اورينټل کالج کې داخله وکړه.

په هغه وخت کې، د دغه کالج مشهور پوهان او عالمان مولانا سعيد طلحه په تفسير کې، مولانا عبدالعزيز ميمن په ادب کې او مولانا نجم الدين په معقولاتو کې په تدريس بوخت پښتو او فارسي ژبو هم پوهېده. د ده د ځينو مشهورو کتابونو نمونه دا دي:

**۱-انتخاب غالب:**

دا اردو ژبې د مشهور شاعر مرزا اسدالله خان غالب دهلوي د شعرونو مجموعه ده، چې مولانا عرشي پرې سريزه او حاشيې ليکلي او دا کار يې په ۱۹۴۳ زېږديز کال بشپړ کړی دی.

**۲-نادرات شاهي:**

دا په اصل کې د هند د مغولي واکمن جلال الدين شاه (دوهم شاه عالم، مړ ۱۸۰۶ زېږديز) دېوان دی، چې عرشي پرې دوه شپېته پاڼېزه سريزه کښلې ده.

**۳- فرهنګ غالب:**

مولانا عرشي په دې کتاب کې د غالب شعري ترکيبونه تشريح کړي دي. دا کتاب په ۱۹۴۷ زېږديز کال چاپ شوی دی.

**۴- وقايع عالمشاهي:**

دا کتاب د مغولي واکمن دوهم عالم شاه د زمانې د يوه ستر مورخ کنور پريم کشور فراقي له خوا ليکل شوی دی. په دغه کتاب کې د مرهټه وو د جګړې پېښې او واقعات راغونډ شوي او مولانا عرشي پر دغه کتاب عالمانه سريزه کښلې او ګټور حواشي او تعليقات يې پرې ورزيات کړي دي.

**۵- پر بابري تاريخ حواشي:**

دغه اثر د زين الدين خوافي له خوا، چې د بابر د زمانې مورخ و، ليکل شوی دی، چې درې خطي نسخې يې اوس هم شته. يوه د لندن په برېټيش موزيم، دوهمه نسخه يې د پيرس (پاريس) په ملي کتابتون او درېيمه نسخه يې د رامپور په رضا لايبرري (کتابتون) کې خوندي ده. ارواښاد عرشي پر دې کتاب، حواشي او تعليقات کښلي او يوه هراړخيزه سريزه يې پرې ليکلې ده.

**۶ – په پښتو کې د تذکير او تانيث مسئله:**

دا هغه په زړه پورې مقاله ده، چې ارواښاد عرشي پر هغو کلماتو بحث کړی دی، چې مذکر او مونث دي او د پښتو ژبې له لارې اردو ته ورننوتلي دي. د مولانا عرشي دا مقاله په

بنام عبدالرووف بينوا مدير مطبوعاتی سفارت افغانستان در دهلی ۲۱ جنوری ۱۹۵۶ ميلادی

صبا زعرشی دلخسته نزار و نژند
سلام شوق به استاد بينوا برسان
پس از گزارش آداب راه عجز و نياز
بحضرتش زمن اين حرف مدعا برسان
که ای بلند نظر، خرده بين و نکته شناس
ترا سزد که عطارد به تو سلام کند
نواختی چو من بنده را به نامه لطف
مرا رسد فلک پير احترانم کند
کلام قاسم افغان فرخ آبادی
درين خزينه آثار بيش قيمت ما
برای طالب اين لهجه نيا کانم
بحالتی است مهيا گويا وه وا
نوشته ای که برای تو نقل ديوانش
بگيرم و به جناب تو اش روانه کنم
يقين شناس درين کار اختيارم نيست
معاف دار که اين فرض را ادا کنم
کرم نما و به نواب رامپور نويس
کليد باب مرادت بدستش افتاد ست
چو پرسی اجرت نقلش همی توانم گفت
که بيش از صد ويک روپيه نخواهد رفت

د استاد عبدالرووف بېنوا د ليک په ځواب کې د عرشي صيب د دې فارسي شعر پښتو ژباړه:

ای د سبا باده! زما خوار او عاجز بنده له خوا
په سلګونو سلامونه استاد بېنوا ته ورسوه
تر سلام او ادب او درناوي وروسته
زما له خوا نه هغه ښاغلي ته ووايه
چې ای د لوړ نظر خاونده او ای پوه او عالم انسانه!
ته د دې ور تيا لرې چې عطارد تا ته سلام وکړي
ما ته مو چې کوم د مينې ليک رالېږلی دی
نو زه ورته د درناوي او قدر په سترګه ګورم
تاسو چې زما نه د قاسم علي خان افغان اپريدي کلام (دېوان) غوښتی دی
او هغه زموږ سره د دې کتابتون په
قيمتي او ګران بيه خزانه کې خوندي دی
او زما د نيکونو په ژبه ليکل شوی دی
هغه خو دلته شته
چې تاسو ته يې يوه کاپي يا نقل در ولېږم
خو باور وکړئ چې د دې خبرې واک او اختيار له ما سره نشته
او ما ته به بخښنه کوئ چې ستاسو دا فرض نه شم ادا کولی
نو مهرباني وکړئ او د رامپور نواب ته يو ليک واستوئ
ستاسو د دې غوښتنې کيلي (چابي) د هغه په لاس کې ده
که رانه وپوښتې، چې د دې دېوان د نقلولو او کاپي
کولو اجوره او مزد به څو روپۍ وي؟
نو همدومره ويلی شم، تر يو سلو يو روپيو نه زيات نه دی

بيلابيلو ولايتونو، همدارنګه له سوېلي پښتونخوا (کويټې او چمن) څخه ورغلو شاعرانو او ليکوالانو برخه اخيستې وه. په مشاعره کې، چې ماښام مهال پيل شوه او د شپې يوه بجه پای ته ورسېده، د شعرونو ډېره برخه د هلمند سيند ارزښت او تاريخي ميراثونو يادونې او ستاينې ته ځانګړې شوې وه.

*****

## مزار کې د پښتو ژبې دوريا زده کړې لړۍ پيل شوه

د بلخ په مرکز مزارشريف ښار کې د "راځئ پښتو وليکو" تر سرليک لاندې د پښتو ليکلو د اسانه لارو چارو د زده کړې وړيا دوه مياشتنۍ لړۍ په بلخ ولايت کې د پښتو ژبې د ودې مرکز - بلخ ادبي خوځښت له خوا د غبرګولي په شپږمه پيل شوه. د دې خوځښت د مسوولينو په خبره، دا ښوونيزه لړۍ يې په بلخ ولايت کې د پښتو ليکوالۍ د عامولو په موخه پيل کړې ده، چې د دغه ولايت د بيلابيلو ولسواليو لسګونه ځوانانو په کې ونډه اخيستې او په وړيا توګه به د پښتو ليکوالۍ لارې چارې ور وښودل شي.

*****

## په ميدان وردګو کې د منې ګل مشاعره ترسره شوه

د ميدان وردګو ولايت په مرکز ميدان ښار کې د منې ګل ديارلسمه دوديزه مشاعره د غبرګولي په اتمه ترسره شوه. په دې مشاعره کې، چې د هېواد د بيلابيلو ولايتونو سلګونو شاعرانو، ليکوالانو، ځوانانو، قومي مشرانو، د ولسي جرګې استازو او ګڼ شمېر مخورو ګډون کړی و، شاعرانو د منې ګل مشاعرې په وياړ او په هېواد کې د ټلپاتې سولې او شته بدمرغيو نه د خلاصون او ژغورنې په اړه خپل شعرونه ولوستل. هېره دې نه وي، چې د پنجشنبې (د غبرګولي اوومه) په شپه په دغه ولايت کې د ګڼ شمېر شاعرانو، ليکوالانو، هنرمندانو او نورو له لوري د غزل شپې مشاعرې هم ترسره شوه.

*****

## په ارګ کې پسرلنۍ مشاعره ترسره شوه

په ارګ کې پسرلنۍ مشاعره د جلالتمآب ولسمشر حامد کرزي په ګډون، چې يو شمېر شاعرانو، ليکوالانو او فرهنګيانو په کې برخه اخيستې وه، د غبرګولي په شلمه نېټه ترسره شوه.

د ولسمشرۍ له مطبوعاتي دفتره په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، په دې مشاعره کې، يو شمېر شاعرانو د هېواد په بيلابيلو ژبو د پسرلي او هېواد په اړه خپل شعرونه ولوستل او د وروښو مليتونو ترمنځ يې د ملي يووالي پر لا ټينګښت ټينګار وکړ. حامد کرزي په دې مشاعره کې شاعران او ليکوالان وستايل او ويې ويل: په افغانانو کې په نورو برخو سربېره د شعر په برخه کې هم خورا ښه استعدادونه شته، چې ځوان نسل په دې برخه کې لا ډېر ښه ځلېدلي دي. ولسمشر، شعر او ادبيات نړۍ ته د افغانستان د معرفي کولو په لاره کې مهمې وسيلې وبللې او ټينګار يې وکړ، چې زموږ شاعران او اديبان دې نړيوالو ته د افغانستان د پېژندګلوۍ له پاره په خپلو شعرونو او ليکنو کې د هېواد حقيقي څېره معرفي او له دې لارې دې د خپلې خاورې رښتينې استازيتوب وکړي.

نوموړي له مشاعرې وروسته، د هېواد درېيو تنو ممتازو شاعرانو او اديبانو ښاغلو پيرمحمد کاروان، قمبرعلي تابش او متين اندخوی ته نغدي جايزې ورکړې.

*****

## د پيرمحمد کاکړ د دېوان د ۲۴۰مې کليزې په مناسبت ځېړنغونډه جوړه شوه

د پښتو ادب د منځنۍ دورې د پياوړي شاعر پيرمحمد کاکړ د دېوان د بشپړېدو د ۲۴۰مې کليزې په مناسبت دوه ورځنۍ علمي ځېړنغونډه په کندهار ښار کې د غبرګولي په ۱۷مه جوړه شوه. د دې غونډې په مناسبت چې له ولايتي چارواکو سربېره، ځينو علمي او فرهنګي شخصيتونو په کې ګډون کړی و، د ولسمشر حامد کرزي په پيغام کې راغلي و: پيرمحمد کاکړ يو نوښتګر شاعر و او د اشعارو يو ښه دېوان ځنې پاتې دی، چې سږ کال يې د تکميل دوه سوه څلوېښت کاله پوره شول. پير محمد کاکړ د پښتو د نظم او نثر پر ليکلو سربېره په دري ژبه هم نظم او نثر ليکلی دی او په دواړو ژبو د شعر او نثر په ليکلو کې برلاسی وو.

*****

## د کوټې پښتو اکاډمۍ درې مياشتنۍ مجلې خپرېدل بيا پيل شول

د کوټې پښتو اکاډمۍ درې مياشتنۍ مجله پيل کړې ده، چې (ليکنې) نومېږي او لومړۍ ګڼه يې په دې وروستيو کې په منځنۍ کچه کې په ۲۴۰ مخونو کې له چاپه راوتلې ده. دا مجله له ۲۷ کلونو ځنډ وروسته بيا چاپ او خپره شوه.

This document was created with Win2PDF available at http://www.daneprairie.com.
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use only.